درویش وردک

۰۵ جنوری ۲۰۱۵

## بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيْمِ
## لومړی مجلس (د الله د غوښتنې پر وړاندې اعتراض نه کول)

زمونږسرورشیخ محیی الدّین ابومحمد عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) د۵۴۵ هجری قمری کال دشوال دمیاشتی په دریمه په خانقا کی داسی وفرمایل:

دمقدراتودنزول په وخت دخدای عزّوجلّ څخه مخ اړول، ددین مړینه، دتوحید مړینه اودتوکل اواخلاص مړینه ده.

دمومن زړه دبلاوو دنزول په وخت کی دولی؟اوځرنګه؟ څخه لیری وی، بلکه په ټولو مقدراتوکی په ټوله سره تسلیم وی. دبری په هیله دصابرینوپه ډله کی واوسی اودخدای په لاره کی ویښ اوهوښیاراوسی. له خدایه مه غافل کیږی، دغه هوښیاری دژوندانه په وخت کی لاس ته راوړی، له مړینی وروسته هوښیاری ګټه نلری.

مخکی له دی چی الهی حضورته ودریږی اومخکی له دی چی فرصت له لاسه ووزی اودپښیمانی سبب وګرځی هوښیار زړه لاس ته راوړی،ځکه هلته بیا پښیمانی ګټوره نده.

خپل زړونه مو اصلاح کړی، هرکله چی زړه صلاح ومومی ستاسو ټول احوال به په صلاح راشی. نو ځکه دی چی پیغمبراکرم(صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَعَلی آلهِ وَاَصْحَابِهِ وَبَارَکْ وَسَلِّم) فرمایلی:

**«فِیْ اِبْنِ آدَمَ مُضْغَةٌ اِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ لَهَا سَائِرُ جَسَدِهِ وَاِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ لَهَا سَائِرِ جَسَدِهِ، اِلّا وَهِیِّ الْقَلْبُ»**- «دبنی آدم په وجودکی یوه ټوټه غوښه شته چی که اصلاح(روغه) وی، نودبدن ټول غړی به یی صحیح اوروغ وی، اوکه فاسده شی؟نودټول بدن فساد له ځان سره راوړی، یوه شی! هغه زړه دی».

امادزړه صلاح اوسلامت په پرهیزګاری اوپه خدای عزّوجلّ باندی توکل اوپه توحیداوپه اعمالوکی په اخلاص پوری تړلی دی اوتباهی یی ددوی په نشتوالی کی ده.

زړه په بدن کی ،په قفس کی دالوتونکی په څیردی، یاپه یوه صندوقچه کی یوګوهر، یاپه یوه خزانه کی مال، روښانه ده چی دقفس ارزښت دهغی په مال کی دی. قفس په یوازی توګه اوتشه صندوقچه اویا تشه خزانه ارزښت اواعتبارنلری.

**ای خدایه ټول غړی اوجوارح مو په خپله بنده ګی کی مشغول لره، زمونږزړونه دمعرفت په نورروښانه کړه اوپه ټول عمرشپه اوورځ مونږپه تامشغول وګرزوه اوله غفلت څخه مو په امن وساته. مونږ دهغه څه په ترسره کولو**

**بريالی کړه چی ستا نیکوبنده ګانوستاسپیځلی درګاه ته وړاندی کړی. هغه څه چی دی ددوی معنوی غذاګرځولی مونږته هم راوبښه، له مونږسره داسی اوسه لکه ددوی سره چی وی.آمین!**

ای قومه(ای دپیروانوډلی)، دخدای داوامرو داطاعت لپاره داسی اوسی لکه چی نیکوکاران و، ترڅوچی ځواکمن خدای هم ستاسو پرنسبت داسی واوسی لکه ددوی پروړاندی چی و..

که غواړی چی دخدای تعالی دعنایت وړ وګرځی، په بنده ګی، امرورلواوصبر تکیه وکړی. په هغه څه چی دتاسواونورپه هکله مقدرشوی درضا په سترګه وګوری. ای قومه له دنیا سره پریکړون وکړی اویوازی یی په ځانګړوبرخو پاملرنه وساتی، ولی دتقوی اوپرهیزګاری په لاسونو. وروسته دآخرت په فکرکی اواسی اودآخرت مناسب اعمال اوکړه غوره کړی دخدای له اوامرو اطاعت وکړی اول ځانته پند ورکړی بیانوروته.

(ای غلامه) لومړی خپل نفس ته ځیرشه، خپل ځانته نصیحت وکړه بیانوروته. دځان اصلاح ته لومړیتوب ورکړه، ځکه په تاکی تراوسه داسی څه باقی دی چی اصلاح ته اړتیالری اوترڅوچی خپل ځان کاملا اصلاح نکړی؟ څرنګه کولای شی چی نوردنفس له ډنډه وژغوری؟

ته اوس ړوندیی څرنګه کولای شی دنورولاربنونه وکړی؟ په پوره بینایي کولای شی دنورو لاس نیونکی واوسی. تکړه لامبوزن کولای شی چی دنفس په ډنډکی غرق شوی وژغوری. روڼ زړی انسانان کولای شی معرفت الله ته لاربښونه وکړی، هغه څوک چی په دی لاره کی جاهل دی دنورو له رهنمایی څخه ناتوانه دی.

دخدای دامرپروړاندی ولی؟ملی؟ نشته، پس هغه درته ګران کړه اودهغی په رضا عمل وکړه نه دغیروپه رضا، له خدایه وبیریږه نه له مخلوقه. ولی داټول دنیت په خلوص ترسره کیږی نه یوازی دژبی په وینا. داکارونه باید په خلوت اویوازیتوب کی ترسره شی نه په ظاهرکی، ځکه که توحید دچا دکورپه دروازه کی وی اوشرک یی په دننه کی وی داعین نفاق دی اودوه مخی. ژبه دی له پرهیزاوتقوی خبرورکوی اوزړه دی له فسق اوفجوره. په ژبه شاکریی ولی په زړه ناشکره اومعترض.

په دی هکله متعال خدای درسول(صلی الله علیه وسلم) په ژبه وایی:

**(يَا اِبْنَ آدَمَ خَيْرِیْ اِلَيْکَ نَازِلٌ وَشَرَّکَ اِلَیَّ صَاعِدٌ)**

«ای دآدم اولاده: زما نیکی تاته نازلیږی ولی په بدل کی یی ستا بدی زماخواته راپورته کیږی».

وای پرتا، حیرانی ده! دخدای دبندګی ادعاکوی ولی دنوروپرستش کوی، که په ریښتیاځان دخدای بنده بولی نوپه ده به باورولری اودی به خپل ولی اوسرپرست وګڼی، ریښتینی مومن دنفس اودآرزوله شیطان څخه پیروی نکوی، دنفس شیطان ته ارزښت نه ورکوی چی پیروی یی وکړی، اودنیا ته هم دومره ارزښت نه ورکوی چی پروړاندی یی په ګونډوشی، بلکه دنیا ته په ټیټه سترګه ګوری اودآخرت غوښتنه کوی. اوهرکله چی موخی ته ورسیږی نوددنیا زخارف(ښکلا) پریږدی اوحقیقی مولا ته رسیږی.

په ټولو حالاتوکی په خلوص سره بندګی کوی اودربّ عزّوجلّ قول ته غوږنیسی چی فرمایی:

**(وَمَا اُمِرُوا اِلّاَلِيَعْبُدُواللهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ حُنَفَاءَ)**-« امرورنکړشو،مګرپرته له دینه چی دخدای پرستش وکړی اوپه دین دمخلصوباورمندوڅخه واوسی. سوره بینه آیه ۵».

دمخلوق پرستی شرک له زړه وباسه اودباری ذات توحید ته راوګرزه، دهرڅه اوهرچا پیداکوونکی دی دی اودټولوواک دده په لاس کی دی.

ای چی دغیرخدای نه دنعمت غوښتونکی یی! پوه شه چی ته هوښیارنه یی، آیا داسی څه شته چی دالله په کبریایی خزانه کی شتون ونلری، چی له نورویی غواړی؟ قال الله عَزَّ وَجَلَّ:( وَاِنْ مِنْ شَیْئٍ اِلَّاعِنْدَنَا خَزَائِنُهُ)-«هیڅ شی نشته،پرته له دی چی خزانی یی له خدای سره دی.سوره حجرآیه ۲۱».

(ای بنده) وروسته دقضا اوقدرناودان ته په صبرتکیه وکړه، دڅښتن درضاپه موافقت سره بندگی وکړه اوسترگی په لاره اوسه ترڅو دالهی برکاتو څخه پرتاهم راتویی شی.

(ای قومه) راځی دالهی اقدسی مخی ته دده دمقدراتو اوغوښتنوپروړاندی سرټیټی واوسو. خپل ظاهر اوباطن دمقدراتوسره په موافقت اورضا سمبال کړواودده په رکاب کی درضا عالم ته ولاړشو، ځرگنده خبره ده چی دپاشاه استاذی دپادشاه له مخی درناوی کیږی. الهی اقدار دخدای استاذی دی اوکله چی داسی واوسو نو دحق نیږدی والی ته رسیږو.

.( هُنَالِکَ الْوَلَایَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ)- اوهلته ده چی سرپرستی(پالنه) دخدای لپاره حق ده.سوره کهف آیه۴۴-».

ځرنگه چی دی پوړ ته ورسیدی دده علم له دریابه به یی وڅښی، دفضل له دسترخوانه به یی روحانی نعمتونه خوری اودده له نیږدی والی سره به انس پیداکړی،اودرحمت پرده به یی پرتاوغوړیږی. ولی ددی پوړ اهل له زرو یوکس اوله ټولو قبایلواوعشیرو یوفرد دی.

(ای غلامه) دتقوی رعایت اودشرع دحدودو رعایت اودنفس اوهوس دشیطان سره مخالفت پرتاالازم دی. دنفس دهوی اودنابابه ملگروڅخه ډه ډه وکړه. پوه شه چی واقعی مومن په دی لاره کی دوَرَع خولی په سرکوی اوخپله توره په تیکی نه ننباسی اودزیاراوخوځښت له آسه زین نه پورته کوی. اوپه ټول توان دنفس سره په مبارزه اوجهاد لگیادی.

ددی مبارزی داړتیاو نه لرخوړل، له لوړی سره عادت کول، داړتیاپه وخت دالهی امرپربنسټ خبری کول دی.

په دنیا کی باید داسی متکلم واوسو لکه دبدن غړی چی په آخرت کی په نطق اوبیان راځی. که خدای تبارک وتعالی وغواړی نوهرڅه په وینا راولی اودجماداتولپاره هم دوینا اسباب برابروی. که هره اراده وفرمايي نو دترسره کولو اسباب یی هم پیداکوی. ځرنگه چی یی اراده فرمایلی چی خپل بنده گان دزیری اودآخرت دعذاب پواسطه له بدیو راوگرزوی، اودرسولانو(علیهم السلام) پواسطه یی دغه بالغه حجت بیان کړی دی. اوکله چی دنبوت اورسالت دور ختم شو نو دعلماو پواسطه داحجت بنده گانو ته رسوی. رسول اکرم(صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّم) فرمایی( اَلْعُلَمَآءُ وَرَثَةُ الْاَنْبِیَاءِ)-«علماء دپیغمبرانووارثان دی».

(ای قومه) دخدای دنعمتونو شکرپرځای کړی اوټول غمونه دخدای له جانبه وگڼی. خدای په دی هکله فرمایلی:( وَمَابِکُمْ مِنْ نِعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ)-«)«هرنعمت چی تاسوته ورسیږی دخدای له جانبه دی. سوره نحل آیه ۵۳-».

(ای غلامه) پوه شه چی ته اړیی چی په یوازیتوب کی په وَرَع اوزهد لاس پوری کړی ترڅو تا دمعصیت اوگناه له ډنډه اوله تیارو اوښوئیدلو راوباسی. ته ځانی مراقبت اوتذکرته اړیی اودحق جلَّ وعَلاپه لیدکی اوسی، اودنفس اوشیطانی هواسره په مبارزه اړیی.

دډیروخلکو ویرانی له خطاگانوڅخه اودډیروزاهدانو ویرانی دنفس له شهوته اودابدالو ویرانی له وسوسی فکرونو په خلوت کی ده،اودصدیقینوویرانی دحق په مقام کی دریدل دی، تل خلک معرفت الله ته بولی، همیشه زړونه دخدای خواته متوجه کوی اووایی:

ای زړونو اودانس اوجن ارواگانواومریدانو، دمطلق واکمن په لوری وزغلی، دزړه په پښو، دتقوی اوتوحید په پښو له دنیا اوآخرت نه دبیزاری اوله خدای نه غیردهرڅه پروړاندی بی اعتنا، دغه کار دریښتیا ویوونکو اودحق دمردانودی.ټول توان یی دخلکو داصلاح په لاره کی تامیرۍ او له ځمکی ترآسمانه یی دتوحید دعوت خپوردی.

(ای غلامه) دنفس غرورله ځانه لیری کړه اوددی قوم دپښو خاوری اوسه. ددوی پروړاندی دخاوری په څیرټیټ اوسه.
خدای تبارک وتعالی فرمایی:
(يَخْرُجُ الْحَىَّ مِنَ الْمَيِّتَ، وَيَخْرُجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَىَّ)-« ژوندی له خاورو راباسی اودمرګ پواسطه ژوندی په مړوخاورو اړوی.» ابراهیم علیه السّلام یی له هغو موراوپلارڅخه پیداکړ،چی زړونه یی دکفرپواسطه مړه شوی و. څرنګه چی مومن ژوندی اوکافر مړدی. موحد ژوندی اومشرک مړدی. په دی علت خدای درسول(صلی الله علیه وسلم) په ژبه فرمایی:
(اَوَّلَ مَنْ مَاتَ مِنْ خَلْقِیْ اِبْلِیْسَ)-« زماله مخلوقاتواول مړی ابلیس و». یعنی چی زما نافرمانی یی وکړه اودمعصیت په مرګ ګرفتارشو.
داآخرزمان دی، په ریښتیا دنفاق بازارجوړشوی، ددروغو بازار رونق موندلی. دمنافقو دروغجنوسره مه کښینه.
وای پرتا، حیرانی! پوه شه چی ستا نفس منافق، دروغجن اوبدکاره کافردی، څرنګه دده ترڅنګ آرامه یی.؟ دده سره په مخالفت راپورته شه، مهاربی کړه، آزاد یی مه ایله کوه، جیل ته یی واچوه اوداسی حق یی ورکړه چی ورسره ښایی. دکوشش اومجاهدت په ذریعه یی له بیخه وباسه، مه پریږده چی دربادندی لاس بری شی، دځان رام یی وګرزوه اوپری سپورشه.
دزړه له غوښتنو اوآرزوګانوسره مه کښینه، ځکه هغه دکوچنی بی عقله ماشوم غوندی دی، څرنګه دلړعمرله ماشومه غواړی څه زده کړی؟ نفسانی آرزوګانی اوهوا اوهوس په حکم کی شیطانان دی، شیطان ستا اوستا دپلارآدم علیه السّلام دښمن دی، څرنګه له خپل غلیم سره انس اخلی؟ ته نه پوهیږی چی ستا اودده ترمنځ پخوانه دښمنی اووینی توئیدل شتون لری؟ دده له فکره مه هوسا کیږه چی دی ستادپلار اومور قاتل دی.
که پرتاهم لاس بری شی تا به هم له منځه یوسی، څرنګه چی یی دوی هلاک کړل. دتقوی اوتوحید په وسله سمبال دشیطان اونفس جګړی ته ورشه، په ظاهراوباطن کی ځان ساتنه اوزهد دشیطان سره ستا تیره توره ده، ستا لښکری په دی لاره کی بیا هم له لوی خدای څخه مرسته اواستعانت غوښتل دی. داترټولو غوره وسله اولښکری دی چی په آسانی دشیطان لښکری چی دانسان په نوع کی یی رسوخ کړی ماتی کړی اوبیخ اوبنسټ یی وباسی. بری همیشه دهغه چاپه برخه دی چی خدای یی مل وی.
(ای غلامه) دنفسانی غوښتنو اوهوا سره مه مل کیږه، ددنیا اوآخرت پروړاندی بی اعتنا اوسه. له خدای عزّوجلّ پرته له هیچا پیروی اومتابعت مکوه. نوهله به داسی خزانی ته ورسیږی چی فنا اونابودی ونلری. نوبیابه دحق تعالی لخوا داسی هدایت ته ورسیږی چی ضلالت اوګمراهی ونلری. له خپلوګناهونو توبه وباسه اودخپل ربّ خواته وزغله! اوهرکله چی دی توبه وایسته نوداسی اوسه چی په ظاهر اوباطن کی تائب واوسی، ځکه باطنی اودزړه توبه همیشنی ملګری دی.
دګناه جامی له ځانه وباسه، دخالصانه توبی اوله خدای تبارک وتعالی نه دشرم له مخی ، نه دظاهراومجازله مخی.
دامراحل دزړه داعمالو څخه دی چی د ظاهری غړو دپاکی اوطهارت اودعبادت په پایله کی لاس ته راځی.
زړه لره دنده ده اوتن لره دنده ده، هرکله چی زړه دمادی علائقو اودنیوی تعلقاتو اومخلوق ته دپاملرنی څخه خلاص شی، دتوکل اومعرفت الله په دریاب کی دایمان دبیړی پواسطه په حرکت راځی، اوټول ظاهری اسباب ایله کوی. اوکله چی دمعرفت په دریاب کی په لامبوشو نو وایی:( اَلَّذِیْ خَلَقَنِیْ فَهُوَ یَهْدِیْنِ)-(هغه خدای چی پیداکړی یی یم، لاره به هم راوښئی).

له یوی غاړی بلی ته هدایت کیږی. له یوه ځایه بل ځای ته ترڅوچی دحقیقت مستقیمی لاری ته ورسیږی اوهرکله چی خدای یادوی، نوسمه لاره ورته ښکاری. اودزړه ټولی تیاری یی دحق جلّ وعلا په یادولو له منځه ځی. اوددی لاری ټول واټنونه ترپښولاندی کوی. اوهرکله چی په دی روحانی سیرکی له ګواښ اومخالفتونو سره مخ شی، دایمان څراغ یی مخی ته روښانه کیږی اودی په شجاعت سره راهنمایی کوی، دویری اووحشت اوریی مړکیږی، اودویری اووحشت پرځای دانس،فرح اوقرب نوریی په زړونو کی روښانه کیږی.

(ای غلامه) هرکله چی درته کوم درد ورسیږی هغه په صبراوشکیبایی ومنه ترڅوچی یی دوا درته ورسیږی، اوهرکله چی یی دوا ته ورسیدی؟ نودخدای شکرپرځای کړه، چی پدی توګه به درته دژوندانه لاره اواره شی. ددوزخ داورویره دمومنانوزړونه څیری اومخونه یی ژیړوی اوزړونه غمګین کوی. په دی حال کی دی چی متعال خدای درحمت اولطف اوبه ددوی په زړونوتویوی اودآخرت دخلاصون لاری ددوی پرمخ پرانیزی ترڅوخپل ځانونه دباطن په سترګووګوری.

نوکله چی مومن دی مرحلی ته ورسیږی اودزړه اطمینان اوسکون ورته حاصل شی اولړهوساشی، نودجلال دروازه یی پرمخ پرانیستل کیږی، ترڅو ویره یی له پخوا ډیره شی. اوکله چی یی دغه مرحله هم په صبراوشکرپای ته ورسوله دجمال دروازه یی پرمخ پرانیستل کیږی ترڅو دپوره ډاډ سکون اوآرامش مرحلی ته ورسیږی، دغه درجی اوپوړونه یوپه بل پسی ترلاسه کیږی.

(ای غلامه) زیاروباسه ترڅودی غم اوهم یوازی دانه وی چی څه وخوری؟څه وڅښی؟ څه واغوندی؟ له چاسره واده وکړی، چیرته واوسی اوڅرنګه ددنیا مال راغونډ کړی، داټولی د شیطانی نفس آرزوګانی دی، دزړه اوباطن معقوله غوښتنه چی دباری تعالی داقدس ذات په لټه کی دی، څه شوه؟ باید ټول غم مو دخدای رضا وی چی ددنیا پرځای یی درته آخرت مقرر کړی. که چیری ددنیا ښکلا ته دی په ټیټه وکتل، نودآخرت همیشنی نعمت به درته درکړای شی. که دله عمره یوه ورځ پاته وی نودخپل ځان اوخپلو اعمالو په محاسبه اوارزونه پیل وکړه، اودمرګ دورځی لپاره، هغه ورځ چی دمرګ فرشته درپسی راشی، یوڅه زیرمه کړه.

دنیاپه حکم کی پخلنځی دی دقوم لپاره،اوآخرت داوسیدواوتم کیدوځای. اوهرکله چی الهی غیرت په زړونو نازل شی نوددوی اوآخرت ترمنځ حایل شی، په دی وخت ځان نه په دنیا تړلی بولی اونه هم په آخرت، اویوازی په لقاء الله فکرکوی اونه په بل څّه.

ای دروغجنه! په تا خدای دنعمت اوهوساینی پروخت ګران دی اوکله چی کومه بلا دربااندی راشی داسی تیښته کوی لکه چی هیڅ وخت دی دخدای دوستی ادعا نده کړی، پوه شه چی دبنده رېښتینولی اودرواغ دآزمایښت پروخت معلومیږی. هرکله چی دمتعال خدای له خوا په کوم درداوغم اخته شوی اوصبراوټیکاو دی له لاسه ورنکړ،کولای شی دخدای دوستی ادعا وکړی.

روایت دی چی یوکس رسول الله علیه السلام ته راغی اوویل یی: یارسول الله ماته ډیر ګران یی: حضرت په ځواب کی ورته وویل:(**اِسْتَعِدْ لِلْفَقْرِ جِلْبَاباً**)-«په دی حال کی دځان لپاره دفقرڅادرجوړکړه ».

بل کسی بیا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته راغی اوویل یی: خدای راباندی ډیرګران دی، حضرت وفرمایل: ( **اِتَّخِذْ لِلْبَلَاءِجِلْبَاباً**)-«دځان لپاره دبلاپوروراندی څادرتیارکړه».څکه دخدای اورسول مینه دفقراوبلاسره یوځای ده. پدی هکله یوله صالحینو داسی فرمایی:(**وَكُلَّ الْبَلاءِ بِالْوَلاءِ كَىْ لَايَدْعِى لَولَم يَكُنْ كَذالِكَ واِلاكَانَ اَحَدِيَدْعِىْ مُحَبَةَالله عَزَوَجَلَّ**)-« دخدای اورسول په مینه بلا نازله شوی ترڅو هرڅوک دا ادعا ونکړی، اوکه داسی نه وای نوهرچا به

دخدای دوستی ادعا کوله. نوځکه دخدای اورسول دوستی دبلایاو اوفقر پرورِاندی په ثبات اوپایداری اودمصائبو په تحمل ولاړه ده».

**رَبَّنَا آتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَفِی الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ.** آمین